# جنوبي وزيرستان: د ترهګرو پر ضد د امنيتي ځواکونو لوی عمليات د مهمو ترهګرو په ګډون ۴۰ ترهګر وژل شوي

له څه مودې راهيسې د جنوبي وزيرستان د سراروغه سيمې سره نژدې په سختو او غير آباد غرنيو سيمو او ځنګلونو کې د ترهګرو د موجوديت خبرونه مخې ته راغلي وو چې د بنو، لکی مروت، ټانک او په وزيرستان کې يې د ترهګريز بريدونو لپاره دغه ځايونه استعمالول۔

**د ټولو استخباراتي معلوماتو له مخې، ګڼ شمېر ترهګرو په ناامنه او ستونزمنو سيمو لکه سپنه خوړا، لنډه الګډ او کشتي الګاد د کمين ګاهونو سره قوي مورچې جوړې کړې وې۔**

**امنيتي ادارو د منظم پلان د ټولو وسائلو سره د ترهګرو د پټنځايونو د معلومولو په ترڅ کې تېره شپه د برياليي عملياتو په ترڅ کې د ترهګرو د پټنځايونه له منځه يوړل او د ترهګرو د مشرانو مولوي داود او شاهين په ګډون ۴۰ تنه مطلوب ترهګر جهنم ته ليږلي۔ په لوي مقدار سره وسله او بارود هم په قبضه کي اخستي دي، په وژل شوو ترهګرو کي افغانان هم شامل دي۔**

د تحريک طالبان پاکستان خوارج د پاکستان په هيڅ سيمه کې د پټېدو ځای نه لري او د افغانستان د دفاع وزير په وينا په افغانستان کې به هم د پټېدو ځای ونه موندل شي. ترهګر او د هغوی تسهيل کوونکي ورځ تر بلې ځمکه تنګيږي، نو ښه به وي چې امنيتي ادارو ته تسليم شي۔